# پیغام

## دننگرهار ولایت

## د گوشتی ولسوالی

## د وطن گوند د ولسوالی شورا

د روان کال تلی د میاشتی پنځمه د وطن گوند د بنسټ ایښودونکی مشر او د افغانستان جمهوریت رئیس جمهور شهید دوکتور نجیب الله د شهادت د اتلسم کلیزی سره برابره ده. شهید دوکتور نجیب الله د خپل ویاړلی سیاسی مبارزه په اوږدوکی او په تیره بیا د گوند د رهبر او د دولت د ریاست د لرو پر محال، په ډاکه کړه چه د افغانانو د ملی یوالی او د واحد وطن د سولی او ثبات د ساتلو رېښتنی مبارز او د افغانستان د ملی ارزښتنو او افتخارات منل شوی تاریخی ساتندویشخصیت دی. شهید دوکتور نجیب الله حتی د خپل له ویاړه ډک عمر په آخرنیو سلګیو د مورنی وطن د طبیعی او تاریخی حدودو او د طلاتپی د لرغونو آثارو د خوندیتوب او ساتلو ته ژمن پاتی شو او په جک او ویاړلی سر یی د شهادت جام یی پر سر واړول. دوکتور نجیب الله د خپل پرکارنامو او شهادت له وجه نه یوازی دایمی ژوند وگاټه، بلکه دادی د افغانستان د خلکو د زړونو پادشاه هم دی.

زمونږ ویاړلی رهبره پرتا ویاړو!

محمد امین

د وطن گوند د گوشتی د ولسوالی د شورا رئیس